

**دکتور طلا پامیر**

# جګړه اود جګړې قانون

6.11.2015

د جگړې د فلسفې - دجګړې د معنا، علتو نو ، د انسان او جګړې تر منځ د اړیکې په باب راز راز نظریې وړاندي شوې دي. ددی لیکنې مخه د جګړې د فلسفې را سپړل نه دي. زه غواړم دلته د جګړ ې پر قانون تکیه وکړم او د افغانستان په جګړه کې د ښکیلو خواوو پاملرنه ددوی هغو سترو انساني، اخلاقي ، ایماني او حقوقي مسو لیتونو ته چې وړپه غاړه دي ، را و ګرځوم، پرته له دې چې کوم اړخ ته د ملامتی ګوته ونیسم.

ښکاره ده چې ددې خونړۍ او له رازونو ډکې شخړې هر لوری د جګړې لپاره خپله بهانه لري او یوازې په دی دلیل چې وویل شي " په سوله کی خیر دئ " له جګړي لاس نه اخلي مګر داچې د جګړې او سیاست په ډګر کې د یو لړ ترخو واقعیتونو لکه ماتې خوړل او یا قطعي بن بست سره مخامخ شي او دې نتیجې ته ورسې چې د جګړې له لارې خپلو مخو ته نشي رسیدلای.

اوس چې د سولې لر لید ډیر تیاره دی او د جګړې دواړو خواوو د د پو ځي بریا په هیله دجګړې ډګر تر پخوا ډیر ګرم کړیدی، اړینه ده چې هم دولت او هم طالبان خپلو انساني، ایماني او اخلاقي مسولیتونو ته ځیر شي او بشري قانون په کلکه اوبشپړ ډول مرا عات کړي چې لږ تر لږه د دغه غم لړلې جګړې او ملي ناورین او ورانۍ کچه را ټیټه شي.

په هیواد کې وروروستیو خونړیو نښتو وښوده چې ددواړو خواوو د جنګیالیو او یا په هغوی پورې تړلو کسانو لخوا د بشري قانون نه سر غړونه د بشري قانون له سري کرښي او د انسانیت له پولي وزي (وځي).

## دجګړې قانون څه ته وايي او سره کرښه یې کومه او چیرته ده؟

د جګړې قا نون (Jus in Bello) چې په رسمي لاسوندونو او حقوقي سر چینو کې د بشري حقوقو (Humanitarian Law ) یا بشري قانون په نوم راغلی دی، دیو لړ حقوقي نورمونو اوضوابطو ټولیزه

(مجموعه ) ده چې د نړیوالې ټولنې لخوا د جګړې د مصیبتونو د کابو کولو او کمولو په مخه جوړ شوي، منل شوي او د اعتبار وړ (نافذ) دي. بشري حقوق په جګړه کی پریو لړ ځانګړو کړنو، لارو چار او وسلو بندیز لګوي.
بشري حقوق (Humanitarian Law ) د نړیوالو ( بین المللي ) حقوقو ځانګړی او خورا مهم څپرکی ګڼل کیږي.
ځینې کسان او په ټوله کی عام ولس د بشر د حقوقو ( Humans Rights ) او بشري حقوقو (Humanitarain Law)تر منځ تفکیک نشي کولای اودواړه یوشان ګڼي خو په واقعیت کی داسې نه ده. د بنه پو هاوی او تفکیک په مخه، په دې لیکنه کې تردې وړاندې د جګړې د قانون (بشری حقوقو ) پر ځای یوازې د بشري قانون اصطلاح کارول کیږي.
دبشر حقوق ( Human Right) اوبشر ي قانون ( Humanitarian Law ) چې په انګریزی ژبه کی یې د اصطلاح په وجه توپیر په بنه توګه تر سترګو کیږي، د موضوع ، میکانیزم او الزام له مخې ( په لحاظ) د نړیوالو حقوقو دوې جلا برخې جوړوي، سره له دې چې په ځینې عامو اصولو او مخو کې یې ورته والی او یووالی هم شته.
د بشر حقوق ( Human Rights ) په عادي حالاتو کې او همد ا شان د جګړې په وخت کې د ټولو و ګړو پر منل شویو سیاسي، مدني، اقتصادي، فرهنګي او ټولنیزو حقونو په خوندیتوب تینګار کوي.
بشري قانون (Humanitarian Law ) له جګړې سره اړیکه لري؛ د جګړې په وخت کې د ملکي وګړو، ملکي او فرهنګي ځایونو (تاسیساتو) ساتنه کوي؛
د جګړی د قربانیانو ددوښمن د ټپیانو، ناروغو ، یرغملو او هغو جنګیالیو سره چه وسله پر ځمکه ږدي، انساني چلند او کړنلاره ټاکي؛ دجګړې پر ځینو لارو چارو او د ځانګړو متعارفو وسلو په کارولو بندیز لګوي. په همدې وجه، بشري حقوقو ته د جګړی قانون (Jus in Bello ) هم وایي او په حقوقي ادبیاتو کې ځای لري.
د بشر د حقونو او د بشري قانون سر چینې، څه نا څه بیلې دي. د بشر حقونه د ملګرو ملتونو په منشور، د بشر دحقونو په نړیواله اعلامیه ( 1948 ) د بشر د حقونو په دوو میثاقونو ( 1966 ) اونورو ځانګړو تړونونو کې ځای پر ځای شوي دي. د بشري قانون ضوابط د هاګ په کنوا نسیونونو (1907 ) د ژنیو په کنوانسیونونو( 1949 ) او له دې کنوانسیونو نو سره تړلو پروتوکولونو (1977) او نور ځانګرو تړونونو کې را نغښتې دي.
د بشر حقونه له ځانګړو حالاتو پرته لکه ا پارتید ، ژنو ساید اوداسې نور، په ټوله کې اعلامیه یي ، مشورتې دي. یوازی له سیاسي - اخلاقي اغیزې او اعتبار نه برخمن دي.

بشري قانون الزام او حقو قي پا يلي لري ( ددولتونو لپاره سياسی او د تورنو کسانو لپاره حقوقي- جنايي مسوليت را منځ ته کوی).

د بشر د حقونو او دبشري قانون ميکانيزم بيل دی. دبشر د حقوقو له اروپايي محکمې پرته چې پريکړې يي يوازي د ارو پايي اتحاديي دغړو هيوادونو تر منځ اعتبار لري، د دولتونو لخوا د بشر پر حقونو د تيريو د څيړلو لپاره نړيواله محکمه نشته. دبشر د حقونو د ارزوني په مخه د ملګرو ملتونو د سازمان په چوکاټ کې يوه شورا جوړه شوي ده. دغه شورا هر کال په نړۍ کې او د هر دولت دننه دبشر د حقونو د څرنګوالي او پرمختيا په باب يو رپوټ برابروي او هغه هم الزامي نه بلکه مشورتي اعتبار لري.

له بشري قا نون نه عمدي، سيتماتيکي او زړه بګنونکې سر غړونې په جزايي بهير ( جزايي پروسيجر) او محکمه کې څيړل کيږي. دا محکمه کيدای شي په ملي کچه، ديو بل دولت له خوا، د ملګرو ملتونو له خوا جوړې شوې ځانګړې محکمې اوياهم د جزا د نړيوالې محکمې له خوا تر سره شي.

## د بشري قانون سره کړ بنه (ضوابط او نورمونه) :

وړاندې مو ووبل چې د بشري قانون نورمونه او ضوابط په نړيوالو تړونونو (کنوانسيونونو ) او اړونده پروتوکولونو کې را نغښتي دي. بشري قانون ژوري تاريخي ريښې لري او اساسا په نړيوالې ( ددولتونو تر منځ ) جګړه کې د جګړې د مصيبتونو د کابو کولو او کمولو په مخه را منځ ته شوي دي خو، دا چې تر د وهمې نړيوالې جګړې وروسته کلونو کې د آزادی غو ښتنې، په قومي، مذهبي، فرهنګي لا ملونو او دواک پر سر کورنيو شخړو کې مليونونه انسانان ووژل شول، نړيوالې ټولنې هڅه وکړه چې د بشري قانون لمن کورنيو جګړو ته هم وغځوي.

## په 1977 کال کې د ژنيو د څلورو کنوانسيونونو سره په تړا و دوه تکميلي پرو تو کولونه جوړ او ومنل شول. دوهمه شميره پرو تو کول کورنيو جګړو ته ځانګړي شوي دي. (*)

دغه پروتوکول د ژنيو د کنوانسيونونو پر بنا، په کورنۍ جګړه کې له ښکيلو خواوو څخه غواړي چې د جګړي او جګړه ايزو عملياتو په ترڅ کې لږ تر لږه، لاندي ټکي په پام کې ونيسي او مراعات کړي:

- ټول هغه کسان چې نيغ په نيغه په جګړه کې ګډون نه لري او يا داچې له جګړي نه لاس په سر شوي وي، که آزادي يې محدوده شوي وي اوکه نه (نيول شوي او بندي شوي) ، حق لري چې شخصيت، عقيدي او مذهبي مناسکو ته يې درناوی وشي. هغوی بايد په هر ډول حالاتو کې او له هر ډول نا روا توپير (تبعيض) پرته د بشري سلوک نه برخمن وي. د پورتنيو کسانو پر وړاند داسې امر ورکول چې " هيڅوک ژوندی مه پريږدئ "، جواز نلري.

همداشان د پورته ذکر شويو کسانو پر ولاندې په هر ډول حالاتو او هر ځای کې دلاندې کړنو تر سره کول جواز نه لري:

- په ژوند، جسمي او رواني سلامتیا تیری، په ځانګړی توګه عمدی وژنه ( قتل) اور زور زیاتی لکه وهل ټکول( شکنجه) ، دبدن د غړو پرې کول او هر راز جسمي سزا ورکول؛
- ډله ایزه سزا؛
- برمته کول( ګروګان نیول) ؛
- ترور؛
- انساني حرمت ته سپکاوی (هتک)؛
- په غلامی نیول او د غلامانو سوداګري؛
- لوټماري؛
- په په پورتنیو کړنو ډارول (تهدید) .

## بشري قانون د جګړې په حلاتوکې ما شومانو او تنکیو ځوانانو ته په ځانګړې پاملرنه ټینګار کوي:

- ما شو مانو ته باید د هغوی د والدینو په خوښه تعلیم ،دیني او اخلاقي روزنه ورکړل شي؛
- هڅه وشي چې د جګړې په وجه ویشل شوي کورنۍ هر څومره ژر بیرته سره یو ځای شي؛
- هغه ما شو مان چې عمر یې له ۱۵ کالو کم وي، په جګړه کې د ګډون لپاره استخدام نشي. هغوی په جګړه کې د برخې اخیستنې حق نه لري؛
- هغه ما شومان چې عمر یې له ۱۵ کالو کم او په جګړه کې یې برخه اخیستې وي، د نیول کیدو په صورت کې باید تر ځانګړې پاملرنې او مواظبت لاندې ونیول شي او دوالدینو په خوښه په موقتي توګه د جګړې له سیمې نه لرې خوندی ځای ته ولیږدول شي؛

## بشري قانون د جګړې په تړاو د نیول شویو کسانو او بندیانو په هکله هم اړین تر تیبات په پام کې نیولي دي:

- ټولو هغو کسانو ته چې د جګړې سره په تړاو نیول شوي او یا بندیان شوي دي، باید د نورو ملکي وګړو په څیر ا وبه او خوراکي توکي برابر شي؛
- له مذهبي او معنوي آزادی نه برخمن وي؛
- ښځینه او نارینه بندیان باید په جلا جلا خونو کې وساتل شي مګر داچې ښځه اونر دیوې کورنۍ غړې ( میړه اوښځه) وي؛
- له خپلو کورنیو سره د خط اوکارت له لارې اړیکه ولري؛
- دبندیانو دسا تنې ځای (بندي خانه) باېد د جګړې له سیمې نه لرې په خوندي ځای کې وي؛
- له هغو چا سره دي چې د جګړې په تړاو نیول شوي اویا بندي شوي وي، انساني سلوک وشي. د هغوی جسمي او رواني سلامتیا ته خطر پیښ نه شي.

## بشري قانون د ټولو هغو کسا نو چې د جګړې په تړاو تر قضا يي تعقيب لاندې نيول کيږي، ديوې بې پرې ، رښې او عادلانه محاکمې غوښتنه کوي:

- خپلسرې محکمې جواز نه لري. د يوې بې پرې محکمې له حکم پرته بايد هيچاته سزا نه ور نه کړل شي؛

- بري الزمه اصلي حالت دی. تورن کس تر هغه چې د محکمې د قطعي حکم پر بنا کرم ونه بلل شي، بې ګناه ګڼل کيږي؛

- د جګړې د پای ته رسيد په صورت کې دي له ځانګړو حالاتو ( جګړه ايز جنايت) پرته ، ټول هغه کسان چې نيول شوي او محکوم شوي وي و بخښل شي.

## بشري قانون په جګړه کې د نا روغا نو، ټپيانو او ډوب شوو کسانو سره د ښه سلوک غوښتنه کوي :

- ټول نا روغان که په جګړه کې يې برخه اخيستې وي او که نه، بايد له هر ډول توپير ( تبعيض) پرته له صحي خدمتونو نه برخمن وي؛

- د هرې نښتې په پای کې تر کومه چې شوني وي، د جګړې ټپيان، ناروغان اوډوب شوي کسان ولټول شي. له هغوی سره

دې له بد سلوک او د هغوی له لوټولو( چپاو) نه ډه ډه وشي. همدا شان د مړوکسانو جسدونه دې و لټول شي، له لوټولو نه يې مخنيوی او په درناوی خاوروته وسپارل شي؛





ددولت دجنګيا ليو مړي

طالبانو د جنګياليو مړي

## بشري قانون په جګړه کې له بنکيلو غاړو څخه په کلکه غواړي چې د ملکي وګړو ژوند ته ګواښ پيښ نکړي :

- ملکي وګړي په فردي او ټولیزه توګه، له هر راز برید او زور زیاتي نه خوندي دي؛
- د ملکي وګړو په منځ کې د ې د ترور او ویری (ډار) اچوني نه ډه ډه وشي؛




په



دملکی وګړو په منځ کی ځانمرګی برید

ملکی سیمو کی د بمونو غورځول

- د ملکي وګړو په منځ کې د قحطی او لوږې راوستلو نه د جګړې د وسیلې په توګه کار اخسیتل جواز نلري؛
- دژوند د لمړنیو اړتیاوو په توکو او سر چینو لکه د کرنې او ژوو په محصولاتو او دڅښلو د اوبو پر تاسیساتو برید جواز نه لري. همدا شان د آوبو پر بندونو ، د انرژۍ بر تاسیساتو برید جواز نه لری؛
- فرهنګي خونې، د عبادت ځایونه او تاریخي ارزښتونه باید له هر ډول برید نه خوندي وي.

## د بشري قانون نه د سر غړونو حقوق پایلې:

زمونږ په عام ولس کې یو متل دی چې وایي " په جنګ کې حلوا نه ویشل کیږي" او یا داچې " په جنګ کې وچ او لانده دواړه سوځي" دا د جګړې یو عامیانه پوهاوی دی. د جګړې دود او دستور د بشري ټولې په تاریخ کې ډیرې ژورې ریښې لري. ډیری حقوق پو هان د جګړې دود او دستور د ننینو نړیوالو حقوقو له لمړنیو سر چینو څخه شمیري. نن د جګړې قانون (بشري قانون) په لیکل شوې بڼه د نړیوالو حقوقو غوره برخه ګرځیدلې ده.
د بشري قانون ماتول، په قصدي او یر له پسې توګه د بشري قانون له الزاماتو نه پټه او څرګنده سر غړونه، حقوقی - جزایي پایلې لري. داسې سر غړونې جګړه ایر ( جنګی) جنایت ګڼل کیږي.

د جنګي جنایتونو په ارتکاب تورن کسان په ملي او نړیواله کچه د قضايي تعقيب وړ ګرځی. دا شان قضايي تعقيب، به وخت ( زمان) پورې محدود نه دی. تورن کس به د خپل ژوند تر وروستۍ پورې تر تعقيب لاندې وي مګر داچې محکمې ته را کش کړل شي اوعدالت پرې تطبيق شي.

په دې ورستيو ورځو کې د هالند دولت یو پښتانی افغان لوړ پوړی پوځي چارواکی چې د ها لنډ تابعيت هم لري، د جګړه ایزه جنایتونو د ارتکاب په تور تر قضايي تعقیب لاندی نیولی دی. په نوموړي تور لګول شوی چې په ( 1979 ) کال کې د جګړې پر محال او دده په امر په جګړه کې ددوښمن نیول شوي جنګیالي او ملکي خلک وژل شويدي.

څو کاله وړاندې په (2005 ) کال کې د افغان مجا هدينو يو نامتو ټوپکسالار رزداد خان په انګليستان کې د جګړه ایزه جنایتونو د ارتکاب په تور محاکمه او د ( 40) کالو بند سزا ورکړل شوه.

د افغانستان په لسګونو لوړ پوړي چارواکي، اوسني او پخواني ټو پکسالاران د جګړه ایزه جنا یتونو په تور دنړیوالې ټولنې تر څارنې لاندې دي. شک نشته چې د عدالت منګولې په یوه ورځ هرو مرو ددوی ګریوان ته هم رسي.




د افغان دولت له لوري دغه کسانو ته دبخښنې قانون نړيوالې ټولنې ته د منلو او اعتبار وړ نه دی.

په نړیواله کچه او تر دهمې نړيوالې جګړې وروسته د ملګرو ملتونو لخوا په جګړه ایزه جنایتونو کی ښکیلو کسانو ته د سزا ور کولو په مخه ځانګړې ( ad hoc ) محکمې لکه د نیورنبرګ تریبونال(1945-1946)، د توکیوتریبونال(1946-1948)، د روواندا لپاره تریبونال ( 1994 )، دیو ګو سلاویا د پیښنو په اړوند تریبونال ( 1993) جوړ شوي او جنایت کارانو ته اړینه سزا ورکړل شویده. په 2002 کال کی د جزا نړیواله او دایمی محکمه (






(International Criminal court ) جوړه شوه چې د جګړه ایزه جنا یتونو څارل او څېړل يي یو له ځانګړو واکونو او صلاحیتونو څخه دي.

په هالند کی د نړیوالی جزایي محکمی ودانی

پای

---

## * د ژنیوا د کنوانسیونونو اړوند دویم پروتو کول( 1977)  ځینې ځانګړتیاو ي:

۱- دا پروتوکول د ۱۹۴۹ کال د ژنیوا د کنوانسیونونو په تړاو او بشپړتیا په مخه جوړ شوی دی او یوازې هغه اړین ( حد اقل) ضوابط چې په کورنۍ جګړه کې ښکیلې خواوې یې هرو مرو په پام کې ولري، په ګوته کوي. ددی مانا داده چې په جګړه کې ښکیلې غاړې پردغو غوښتنو بر سیره، باید ټول هغه بشری ضوابط چې د ژنیوا په څلور واړه کنوانسیونونو او نورو نړیوالو تړونونو کی راغلي دی، مرا عات کړي.

۲- سره له دې چې په پروتوکول کې د "کورنۍ جګړی" اصطلاح نه ده کارول شوې خو بیاهم، نوموړی پروتوکول په کورنیو جګړو کې د تطبیق وړ دی. د پروتوکول په لمړی ماده کې راغلي چې " دغه پروتوکول پر ټولو هغو شخړو (جګړو) چې د لمړی شمیرې پروتوتوکول تر اغیزی لاندې نه راځي او ددغه پروتوکول د غړو هیوادونو په خاوره کې د دغه هیواد دوسله والو ځواکونو او مخا لفو وسله والو ځواکونو او نورو ډلو تر منځ پیښیږي، دتطبیق وړ دی"

۳- ددغه پرو توکول پر بنا، هر کورنی اړ ودوړ، پاڅون اوکډودي، مخالف وسله وال ځواک نه شمیرل کیږي. ددی لپاه چې یوه وسله واله ډله، مخا لف وسله وال ځواک وپیژندل شي او ددغه پروتوکول له امتیازاتو نه برخه منه شي، اړینه ده چې داسې ډله:

- یو منظم سازماني جوړښت ولری؛ - دملک د خاوری پر یوه برخه کنترول لری؛
- تر یوی مسئولې او ژمنې مشری لاندی وي؛

- په پر له پسې توګه جګړه ايز خوځښت ولرى اوفوځي عمليات تر سره کړي ؛
- بشري قانون او په دغه پروتوکول کې را نغښتو الزاماتو ته غاړه کيږدي.
۴- سره له دى چې په دويمه شميره پروتوکول کې د رسمي جګياليي (Combatant) کلمه نه ده راغلي اوپه دى وجه مخالف وسله وال کس د جګړى بندي (اسيرجنګى) نه ګڼل کيږى او قضا يِ معافيت نه لرى خو بيا هم، په جګړه کې ښکيلې غاړى بايد او په هر حال په جګړه کې له نيول شوو کسانو سره انسانى سلوک او د بشري حقوقو الزاماتو ته چې په دغه پروتو کول اونورو سر چينو کى راغلى دي، درناوى وکړي.
۵- دغه پروتوکول په هيڅ وجه د خپلواکو او مشروع دولتونو حاکميت تر پوښتنې لاندې نه راولي. قانوني او منل شوى حکومت حق لري چې د خپلې خاورې د بشپړتيا او په ملک کې د نظم او امنيت په مخه ټول اړين ګامونه پورته کړي خو په دې شرط چې د وګړو روا حقونو او خپلو بشري الزاماتو ته درناوى وکړي.

www.hoqooq.eu